د امیرِ اهلِ سنّت دامت برکاتہم العالیہ د کتاب "فیضانِ نماز" یو قسط

# د جُمعې فضائل

پښتو



شیخِ طریقت، امیرِ اَہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

دا مضمون د كتاب ”فيضانِ نماز“ صفحه 115 تا 136 نه اخستے شوے دے.

# د جُمعے فضائل

دُعائے عطّار: يا رَبَّ الـمصطفٰے! څوک چې دا رساله ”د جُمعے فضائل“ اولولي يا ئې واوري هغه د جُمعے د مبارکې ورځې په خاطر مالامال کړي او بے حسابه بخښنه ئې اوکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د جُمُعَے په ورځ د دُرود شريف لوستلو فضِيلت

د نبيانو سُلطان، سردارِ دوجهان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چا چې په ما باندې د جُمُعے په ورځ دوه سوه ځله دُرود شريف اولوستو د هغه د دوه سوه کالو ګناهونه به معاف شي.

(جَمْعُ الْجَوَامِع لِلسُّیُوطِی ج۷ ص۱۹۹ حدیث ۲۲۳۵۳)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږه خومره خوش نصيبه يُو چې **اللّٰه** پاك مونږ ته د خپل خوږ حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر د **جُمعَةُ الْمُبارَك** نعمت راكړے دے. افسوس! مونږه بے قدره خلق جُمُعَه شريفه هُم د عامو ورځو په شان په غفلت کښې تيروو حالانکه جُمُعَه د اختر ورځ ده، جُمُعَه د ټولو ورځو سرداره ده، د جُمُعے په ورځ د جَهَنَّم اور نه بلول کيږي، د جُمُعے په ورځ د دوزخ دروازے نه برسيره کيږي، جُمُعَه به د قيامت په ورځ د ناوې په شان اوچتوله کيږي، د جُمُعے په ورځ مړ کيدو والا خوش نصيبه مسلمان د شهيد مرتبه مومي او د عذابِ قبر نه محفوظه شي. د مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار

خان نعيمي رَحۡمَۃُاللهِ عَلَيۡه د فرمان مطابق چې د **جُمعے** په ورځ حج وي نو د حج ثواب د اوياؤ حجونو **هُمره دے.** (او ولې چې د جُمعے بزرګي ډيره زياته ده ځکه) **د جُمعے په ورځ د ګناه عذاب هُم اويا هُمره دے.** (مُلَخَّص از مِراٰۃ ج۲ ص۳۲۳،۳۳٦،۳۲۵)

د **جُمُعَةُ الْمُبَارَك** د فضائِلو به څه وائې، اللّٰه تَبَارَكَ وَتعالیٰ د **جُمُعے** متعَلِّق يو پوره سُورت "**سُوۡرَةُ الۡجُمُعَه**" نازل کړے دے او هغه د قُرآنِ کريم په اته ويشتمه (28) سيپاره کښې ځليږي. اللّٰه تَبَارَكَ وَتعالیٰ د "**سُوۡرَةُ الۡجُمُعَه**" په نهم آيت کښې اِرشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا نُوۡدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنۡ يَّوۡمِ الۡجُمُعَةِ فَاسۡعَوۡا اِلٰى ذِكۡرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الۡبَيۡعَ ؕ ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۹﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: اے اِيمان والؤ! چې کله د لمانځه اذان اوشي د جُمُعے په ورځ، نو د **الله** ذِکر طرف ته درومئ او اخستل خرڅول پريږدئ، دا ستاسو د پاره بهتر دي که تاسو پوهيږئ.

## خوږ نبي ﷺ وړومبئ جُمعه کله ادا کړه

صَدۡرُ الۡاَفَاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد **محمّد** نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحۡمَۃُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: حُضُور عَلَيۡهِ الصلوٰةُ والسَّلام چې کله هِجرت اوکړو او مدينهٔ طيِّبه ته ئې تشريف راوړو نو په دولسم رَبِيۡعُ الۡاَوَّل (٦٢٢ء) د دوشنبه (يعني د ګُل مبارك په ورځ ئې) د څاښت په وخت کښې په مُقام **قُباء** کښې څه وخت اوسيدل اختيار کړل. په دوشنبه (يعني ګُل مبارك)، سِه شَنبه (يعني نهې)، چارشنبه او پنجشنبه (يعني زيارت) ئې هم هغلته اوسيدل اختيار کړل او د جُمات بُنياد ئې کيښودلو. د **جُمُعے** په ورځ ئې د **مدينهٔ طيِّبه** اِراده اوفرمائيله.د بَنِي سالِمِ اِبنِ عَوف د دَرې په مينځ کښې د **جُمُعے** [د لمانځه] وخت راغے هغه ځائے خلقو جُمات قرار کړو. سَيِّدِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هلته **جُمُعَه** ادا کړه او خُطبه ئې اوفرمائيله.
(خَزَائِنُ الۡعِرفان ص۸۸٤)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ نن هُم هلته شاندار مَسجِدِ جُمُعَه قائِم دے او زيارت كوونكي د بَرَكت حاصلولو د پاره د هغې ليدلو له راځي او هلته نفلونه ادا كوي.

## د جُـمُعَه معنٰی

**مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د حضرتِ آدم عَلَیْہِ السَّلَام خاوره په هم دے ورځ جمع شوه او **په دې ورځ خلق راجَمع كيږي او د جُمُعے لـمونځ ادا كوي**، په دې وجوهاتو دے ته **جُمُعَه** وائي. د اِسلام نه مخكښې به د عرب اوسيدونكو دے ته عَرُوبه وئيله.

(مِراٰۃُ الْمناجیح ج۲ ص۳۱۷ ملخصا)

## سردارِ مدينه ﷺ تقريباً 500 جُمُعے ادا كړي دي

**مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: نبيءِ كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تقريباً پينځه سوه **جُمُعے** ادا كړي دي ځكه چې **جُمُعَه** د هِجرت نه پس شروع شوه او د هغې نه پس د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ظاهِري ژوند مبارك لس كاله جوړيږي او په دومره موده كښې تقريباً جُمُعے هُم دومره جوړيږي. (مِراٰۃ ج۲ ص۳٤٦، لمعات ج٤ ص۱۹۰ تحت الحدیث ١٤١٥)

## درې جُمُعے چې د سستئ په وجه پريږدي د هغه په زړه مُهر

د اللّٰه تعالٰی د **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دے: ”خوك چې درې جُمُعے (يعني د **جُمُعَے** لـمونځ) د سستئ په وجه پريږدي **اللّٰه** تعالٰی به د هغه په زړه مُهر اوكړي [يعني اولګوي].“

(تِرمِذی ج۲ ص۳۸ حدیث۵۰۰)

**جُمُعَه** فرضِ عَين ده او د دې فرضِيَّت د ماسپښين نه زيات مؤكَّد (يعني تاكيدي) دے او د دې مُنكِر (يعني اِنكار كولو والا) كافِر دے. (دُرِّمُختار ج۳ ص۵، بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص ۷٦۲)

## د اِمامت مُصَلّٰے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د جُمُعے د لـمانځه د پاره ډير وختي رسيدلو د پاره، د وړومبي صَف

حاصلولو او د تکبیرِ اُولیٰ د ثواب حاصلولو فِکر جوړولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول دِيني تَحرِيك، "دعوتِ اسلامي" دِيني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، راځئ چې يو مَدَني سپرلے واورو: (پنجاب) پهاليه ته نزدې د يوې علاقے اوسيدونكي يو ځلمي اسلامي ورور به دعوتِ اسلامي سره تړون نه مخكښې د ډرامو او ګنده فلمونو كتلو او سندرو او سازونو اوريدلو عادت لرلو، يو ځل ئې په ملا كښې درد پيدا شو نو د هغې علاج ئې هُم د ګناهونو نه ډك كار شراب څښلو كښې لټولو، لـمونځونه كول خو پرېږده د لـمانځه كولو صحيح طريقه هُم ورته نه وه معلومه، خو د هغه ضمير به هغه مسلسل ملامَته كولو چې زه مسلمان يم او ما ته لـمونځ كول نه راځي. په دې دوران كښې يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د هغه په وركشاپ كښې كار كولو د پاره مُلازِم شو نو د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي عمامه، ګيره او سُنَّتو باندې عمل كول ئې ډير خوښ شو چې دا ځلمے د عامو خلقو نه څومره بدل دے! د اسلامي ورور صُحبت رنګ راوړل شروع كړو او هغوئ به هغه ته هُم ترغيب وركولو او جُمات ته به ئې ځان سره بوتللو. چې د رَمَضان مياشت راغله نو د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي په ترغيب ئې عاشِقانِ رَسُول سره **اِعتِكاف** اوكړو، د ګناهونو نه ئې توبه اوكړه او د اختر په موقع ئې د درې ورځو مَدَني قافِله كښې سفر هُم اوكړو، په اِعتِكاف كښې د دعوتِ اسلامي په رنګ كښې رنګ شو، بيا ئې د 41 ورځو مَدَني قَافِله كورس هُم اوكړو، وروستو ئې ذِهن جوړ شو نو د 12 مياشتو مَدَني قَافِله كښې ئې سفر هُم اوكړو، آخر دا چې اِمامت كورس ئې اوكړو او په يو جُمات كښې ئې اِمامت شروع كړو. د هغوئ په وسيله د دعوتِ اسلامي بَرَكتونه د هغوئ د كور كسانو ته هُم نصيب شو او اَلْحَمْدُلِلّٰه په كور كښې ئې دِيني ماحول جوړ شو.

اِنْ شَآءَاللّٰه بھائی سدھر جاؤ گے — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
مرضِ عصیاں سے چھٹکارا تم پاؤ گے — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٤)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جُمُعے د عمامے [يعني پټکي] فضِيلت

د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَحمت نه ډك ارشاد دے: ''بيشکه اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعالٰی او د هغه فرښتے د **جُمُعَے** په ورځ عِمامه [يعني پټکے] وهلو والؤ باندې دُرُود [يعني رَحمت] ليږي.''

(مَجْمَعُ الزَّوائِد ج٢ ص٣٩٤ حديث٣٠٧٥)

## د اللّٰه پاك او د فرښتو د دُرُود ليږلو معنٰی

اے د **لـمانځه عاشقانو!** په بيان شوي حديث کښې د **اللّٰه** پاك او د فرښتو له طرفه د جُمُعے په ورځ عمامه شريف تړلو والؤ باندې د دُرُود ليږلو ذِکر دے. ياد ساتئ د دې نه معروف دُرُود مُراد نه دے، بلکه د **اللّٰه** پاك په خپلو بندګانو باندې د دُرُود ليږلو مطلب دے رحمت نازلول او د فرښتو د دُرُود ليږلو مطلب دے اِستِغفار کول (يعني دُرُود وئيونکي د پاره د بخښنې دُعا کول) (فَتْحُ الْبارِی ج١٢ ص١٣١)

## يو جُـمُعه د 70 جُـمُعو برابره

حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: عِمامے سره يو جُـمُعه د بے عِمامه اوياؤ جُـمُعو برابره ده. (جامِع صَغِير ص٣١٤ حديث٥١٠١ مختصراً)

## شِفا داخيليږي

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعُود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ''څوك چې د **جُمُعے** په ورځ خپل نوکان کټ کوي **اللّٰه** پاك د هغه نه بيماري اوباسي او شِفا ور داخِلوي.'' (قُوتُ الْقُلُوب ج١ ص١١٩)

## لس ورځې د مصيبتونو نه حِفاظت

حضرت عَلَّامه مفتي **محمد امجد** علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په حديثِ پاك کښې دي: څوك چې د جُمُعے په ورځ نوکان کټ کړي **اللّٰه** تعالٰی به هغه د بلې جُمُعے پورې د مصيبتونو نه **محفوظه** ساتي او درې

ورځې زيات يعني لسو ورځو پورې. په يو روايت كښې دا هُم دي چې څوك د جُمُعے په ورځ نوكان پريك كړي نو رحمت به راځي ګناهونه به ځي.

(بهارِشريعت حصّه ١٦ ص ٢٢٦ ،دُرِّمُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج ٩، ص ٦٦٨، ٦٦٩)

## په رِزق كښې د تنګئ يو سبب

حضرت عَلّامه مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د **جُمُعے** په ورځ نوكان پريك كول مُستحب دي، خو كه زيات غټ شوي وي نو د **جُمُعے** اِنتظار دې نه كوي ځكه چې غټ نُوكان ښه خبره نه ده ځكه چې د نوكانو غټ والے د **رِزق د تنګئ سبب** دے. (بَهارِشرِيعَت حِصّه ١٦ ص ٢٢٥)

## فرښتے د خوش نصيبو نومونه ليكي

د حُضُور نبيِّ كريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارك دے: "چې كله د جُمُعے ورځ راشي نو د جُمات په دروازه كښې فرښتے راتلو والا ليكي، څوك چې مخكښې راشي هغه مخكښې ليكي، زر راتلونكے د هغه كس په شان دے څوك چې د **الله** پاك په لاره كښې يو اُوښ صَدَقه (يعني خيرات) كوي، او د هغه نه پس راتلونكے د هغه كس په شان دے څوك چې يوه غوا صَدَقه كوي، د هغه نه پس والا كس د هغه كس په مِثل دے څوك چې ګډ صَدَقه كړي، بيا د هغه په مثل څوك چې چرګه صَدَقه كړي بيا د هغه په مثل څوك چې هګئ صَدَقه كړي او چې كله اِمام (د خُطبے د پاره) كښيني نو هغه (فرښتے) اعمال نامے را اُونغاړي او راشي خُطبه اوري." (بُخارى ج١ ص ٣١٩ حديث ٩٢٩)

## شرحِ حديث

حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: بعضې عُلَماؤ فرمائيلي دي چې فرښتے د **جُمُعے** د فجر [يعني د سحر] راختو نه اودريږي، د بعضو په نِزد د لمر د راختو نه، خو حق دا دے چې د لمر د

سترګې د تيريدو (يعني د ماسپښين د وخت د شروع کيدو) نه [اودريدل] شروع کيږي ځکه چې د هُم دغه وخت نه د جُمعے [د لـمانځه] وخت شروع کيږي، معلومه شوه چې هُغه فرښتو ته د ټولو راتلونکو نومونه معلوم وي، ياد ساتئ چې په وړومبي وخت سل کسان [په يو بل پسې] يو ځائے جُمات ته راشي نو هغه ټول اَوَّل [وخت کښې راتلونکي] دي. (مِراٰة ج٢ ص٣٣٥)

## په اوله صَدئ کښې د جُمُعے جذبه

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په اوله صَدئ کښې به [د هرې جُمُعے په شپه] د پيشمني په وخت کښې او د سحر نه پس لارې د خلقو نه ډکے ښکاريدے، هغوئي به ډيوے راغستي وې او [د شپې يا سحر وختې به] د (جُمُعے د لـمانځه) د پاره جامِع مسجِد طرف ته روان وو لکه د اختر ورځ چې وي، تر دې چې دا (يعني د جُمُعے لـمانځه له د زر تللو) سلسله ختمه شوه. پس وائي چې په اِسلام کښې چې کوم اولنے بِدعت ښکاره شو هغه جامِع مسجِد طرف ته زر تلل پريښودل دي. افسوس! مسلمانانو ته د يهوديانو نه حيا نه ورځي چې هغوئي خپلو عبادت خانو ته د خيالي او اِتوار په ورځ سحر وختي ځي او د دُنيا طلبګار د اخستلو او خرڅولو او د دُنياوي فائدو حاصلولو د پاره سحر وختي بازارونو ته روان شي نو د آخِرت طلب کوونکي د هغوئي سره مقابله ولې نه کوي! (اِحياءُ الْعُلوم ج١ ص٢٤٦)

## د غريبانو حج

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عَبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا رِوايت کوي چې سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْمَسَاكِيْن" يعني د جُمُعے لـمونځ د مِسکينانو حج دے او په بل رِوايت کښې دي چې "اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْفُقَرَاءِ" يعني د جُمُعے لـمونځ د غريبانو حج دے.

(جَمْعُ الْجَوَامِع ج٤ ص٨٤ حديث ١١١٠٨ تا ١١١٠٩)

## د جُمُعے د پاره وختي وتل حج دے

د **اللّٰه** پاك آخري رسُول صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "بيشكه ستاسو د پاره د هرې **جُمُعے** په ورځ كښې **يو حج** او **يوه عُمره** موجوده ده، لِهٰذا د **جُمُعے** د لمانځه د پاره زر وتل **حج** دے او د **جُمُعے** د لمانځه نه پس د مازديګر د لمانځه د پاره اِنتِظار كول **عُمره** ده." (السُنَنُ الكُبریٰ لِلبَيهَقِي ج۳ ص۳۴۲ حديث ۵۹۵۰)

## د حج او عُمرے ثواب

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: (د جُمُعے د لمانځه نه پس) د مازديګر لمانځه ادا كولو پورې دې په جُمات كښې حِصار شي او كه د ماښام د لمانځه پورې حِصار شي نو غوره ده. وائي چا چې په جامِع مسجِد كښې (د جُمُعے د لمانځه ادا كولو او هُم هلته د حِصاريدو نه پس) د مازديګر لمونځ ادا كړو د هغه د پاره د **حج** ثواب دے او څوك چې (هم هلته حِصار شو او د) ماښام لمونځ ئې ادا كړو د هغه د پاره د حج او عُمرے ثواب دے. (اِحياءُ الْعُلوم ج۱ ص۲۴۹) كوم ځائے [يعني كوم جُمات كښې] چې د جُمُعے لمونځ ادا كيږي هغې ته "جامِع مسجِد" وائي.

## د ټولو ورځو سردار

د نبيءِ اكرم، رسُولِ مُحترم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د **جُمُعے** ورځ د ټولو ورځو سرداره ده او د **اللّٰه** پاک په نِزد د ټولو نه لويه ده او هغه د اللّٰه تعالیٰ په نِزد د عِيدُ الْاَضْحٰی [يعني غټ اختر] او عِيدُ الْفِطْر [يعني واړه اختر] نه لويه ده. په دې كښې پينځه خصوصيات دي: ﴿۱﴾ اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعالیٰ په هُم دې كښې آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) پيدا كړو او ﴿۲﴾ په هم دے كښې ئې هغوئي زمكې ته راكوز كړلو او ﴿۳﴾ په هم دے كښې ئې هغوئي ته وفات وركړلو او ﴿۴﴾ په دې كښې يو ساعت داسې دے چې بنده هغه وخت د څه څيز سوال كوي هغه ته به هغه وركوي تر څو چې د حرامو سوال اونكړي او ﴿۵﴾ په هم دے ورځ كښې به قيامت قائميږي. يوه مُقَرَّبه فرښته او آسمان او زمكه او هوا او غر او درياب داسې نشته چې د **جُمُعے** د ورځې نه نه يَريږي." (اِبنِ ماجه ج۲ ص۸ حديث ۱۰۸۴)

## د ځناورو د قيامت نه ويره

په يو بل رِوايت كښې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا هُم فرمائيلي دي چې يو ځناور هُم داسې نشته چې د جُمُعے په ورځ د سحر په وخت د لـمر د ستركې راختو پورې د قيامت د ويرې نه چغې نه وهي، سِوا د اِنسان او پيري نه. (مُؤَطّا اِمام مالِك ج١ ص١١٥ حديث٢٤٦)

## دُعا قبليږي

د سركارِ مدينۀ مُنَوَّره، سردار مَكَّۀ مُكَرَّمه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په جُمُعَه كښې يو داسې ساعت دے چې كه يو مسلمان هغه اوموي او هغه وخت د **الله** تعالىٰ نه څه اوغواړي نو **الله** تعالىٰ به ئې هغه ته ضرور وركوي او هغه ساعت مختصر دے. (صحيح مُسلِم ص٤٢٤ حديث٨٥٢)

## د مازديګر او ماښام تر مينځه ئې اولټوئ

د حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: ”د جُمُعے په ورځ چې د كوم ساعت خواهِش كيږي هغه د مازديګر نه پس د لـمر پريوتو پورې اولټوئ.“ (تِرمِذی شریف ج٢ ص٣٠ حديث٤٨٩)

## د صاحِبِ بهارِ شريعت اِرشاد

**حضرتِ** مولانا مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دُعا قبليدو په باره كښې دوه قولونه قوي دي: ﴿١﴾ د اِمام د خُطبے د پاره د ناستې نه د لـمونځ ختميدو پورې. [او] ﴿٢﴾ د جُمُعے وروستے (يعني آخرے) ساعت. (بَهارِ شرِيعَت ج١ ص٧٥٤)

## حِكايَت

**حضرتِ** سَيِّدَتُنا فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِىَ اللهُ عَنْهَا به هغه وخت پخپله حُجره كښې كښيناستله او خپله خادِمه فِضَّه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا به ئې بهر اودروله، چې كله به د لـمر ستركه په پريوتو شوه نو خادِمې به هغې رَضِىَ اللهُ عَنْهَا ته خبر

ورکړو، د هغې په خبر به سَیِّدہ رضی اللہ عنہا د دُعا د پاره خپل لاسونه پورته کړل. (مِراٰۃ ج۲ص۳۲۰) **بهتره دا ده چې په دې ساعت کښې (څه) جامِع دُعا اوکړي** لکه دا قُرآني دُعا:

رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾ (پ۲، اَلبَقَرۃ۲۰۱)

([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے زمونږه ربه مونږ ته په دُنیا کښې خیر راکړې او مونږ ته په آخِرت کښې خیر راکړې او مونږه د دوزخ د عذاب نه اوساتې) (مِراٰۃ ج۲ص۳۲۵)

د دُعا په نِیَّت درود شریف هم لوستے شئ ځکه چې دُرُود شریف هم عظیمُ الشّانه دُعا ده.

## په هره جُمُعَه کښې یو کروړ او 44 لاکه د جهنَّم د اور نه آزاد

د **مدینے د سردار** صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمان مُبارك دے: د **جُمُعے** په ورځ او شپه کښې څلور وِیشت ساعته (یعني 24 گینټے) دي، یو ساعت داسې نشته چې په هغې کښې **الله** تَبَارَكَ وَتعالیٰ د جهنَّم نه شپږ لکه نه آزادوي، په چا چې جهنّم واجِب شوے وو. (مُسْنَدِاَبِي یَعْلیٰ ج۳ص۲۹۱،۲۳۵ حدیث۳۴۷۱،۳۴۲۱)

## د عذابِ قبر نه محفوظ

تاجدارِ رِسالت صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ارشاد فرمائي: خوك چې د **جُمُعے** په ورځ یا د **جُمُعے** په شپه مړ شي د عذابِ قبر نه به بچ کړے شي او د قیامت په ورځ به داسې راځي چې **په هغه به د شهیدانو مُهر** وي. (حلیۃُالْاَوْلِیَاء ج۳ص۱۸۱ حدیث۳۶۲۹)

## د جُمُعے نه بلې جُمُعے پورې د گناهونو معافي

د **حضرتِ** سَیِّدُنا سَلمان فارسي رضی اللہ عنہ نه رِوایت دے چې د سُلطانِ دوجهان صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمان مبارك دے: خوك چې د **جُمُعے** په ورځ اولامبي او د کوم طَهارت (یعني پاکیزګۍ) اِستِطاعَت (یعني وَس) چې لري هغه اوکړي او تیل اولګوي او په کور کښې چې کومه خوشبو وي هغه اومږي او بیا د لمانځه د پاره اوځي او په دوو کسانو کښې جُدائي اونکړي یعني دوه کسان که ناست وي نو هغوئي نه جُدا

کوي او په مینځ کښې ئې نه کښیني او کوم لـمونځ چې د هغه د پاره لیکلے شوے دے هغه اوکړي او اِمام چې کله خُطبه لوَلي نو خاموشه اوسي **د هغه د پاره به د هٰغه ګناهونو، کوم چې د دې جُمُعے او بلې جُمُعے تر مینځه دي بخښنه اوشي.** (بُخاری ج۱ص۳۰٦حدیث۸۸۳)

## تذکِرہ دحضرت سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ

**اے عاشقانِ صحابه و اَهلِبَیت!** اوس چې تاسو کوم حدیثِ پاك واوریدلو د هغې راوي (یعني بیانوونکے) د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عظیم صحابي حضرتِ سَیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے. صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان سره خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل مَحبَّت اظهار په دې فرمانِ عالي شان کښې کوي ”څوك چې ما سره مَحبَّت کوي هغه ته پکار دي چې زما صحابه سره مَحبَّت اوکړي.“ (تفسیرِقرطبی ج٦ص۲۰۳) د حضرتِ سَیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ کنیَت ابو عبدُالله دے. هغوئي ته حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم [د غُلامۍ] نه آزادي ورکړي وه، هغوئي نسلًا فارسي وو، د فارس ښار د اِصفَهان د علاقے اوسیدونکے وو، د دِین په تلاش کښې ئې خپل وطن پریښودلو او پردیسي جوړ شو، اول عیسائي جوړ شو، د هغوئي کتابونه ئې اولوستل، ډیر مصیبتونه پرې تیر شولو، تر دې چې بعضو عَرَبو غُلام جوړ کړو او په یهودو ئې خرخ کړلو، د هغوئي مالِك هغوئي مُکَاتَب کړلو. حُضُور نَبِـيّ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي ”مالِ کتابَت“ (یعني د آزادۍ د پاره مقرر شوے مال) ادا کړو او هغوئي ئې آزاد کړلو، هغوئي د لسو نه زیاتو مالِکانو سره وخت تیر کړے وو تر دې چې حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته را اورسیدلو (مِراٰۃُالْمَنَاجِیح ج۸ص ۳۳) ”**مُکاتَب**“ هغه غُلام ته وائي چا چې خپل مالِك سره د څه مال په بدله کښې د آزادیدلو مُعاهَده کړې وي. (جَوْهَره جز۲ص۱٤۲ مُلَخَّصاً)

## د آزادۍ نه پس په ټولو غَزواتو کښې شرکت

حضرتِ سَیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د غُلامۍ په زنځیرونو کښې د نښتلو په وجه په غَزوهٔ اُحُد کښې حِصَّه وانخستے شوه، بیا درې سوه د کجورو وَنې او څلوېښت اوقِیه سره زر د هغوئي په بدله کښې ورکړے شو او آزاد شولو او د یو جانباز [یعني ځان قُربانوونکي] مُجاهِد په شان ئې ورروسته

راتلونکو تېرولو غَزَواتو کښې حِصَّه واخستله. (اِبنِ عَساكِر ج ٢١ ص ٣٨٨، ٣٨٩ مُلَخَّصاً) غَزوهٔ خَندَق کښې د خَندَق [يعني كند] كنستلو مشوره هُم هغوئي ورکړي وه. (طبقاتِ اِبنِ سَعد ج ٢ ص ٥١)

## د سَيِّدُنا سَلمان فارسى شان

سيِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ حُضُور نَبِيِّ كريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ډير زيات مَحَبَّت لرلو، د خپل وخت زياته حِصَّه به ئې په دربارِ رِسالت کښې تيروله او فيضانِ مُصطَفىٰ به ئې حاصلولو، د دې په بدله کښې ئې د دربارِ رِسالت نه سَلْمَانُ مِنَّا اَهْلَ الْبَيْت يعني سلمان زمونږه د اَهلِبَيت نه دے. (مُسنَد بزاز ج ١٣ ص ١٤٠ حديث ٦٥٣٤) په شان د خوشخبرئ اوريدلو سعادت حاصل کړو، په يو بل مقام کښې ئې دا عظيم بِشارت حاصل کړو چې، "جَنَّت د سَلمان فارسي مُشتاق (يعني آرزومند) دے."

(تِرمِذِى، ج ٥ ص ٤٣٨ حديث ٣٨٢٢)

## د سادګئ عجيبه حِكايت

د رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري وفات نه پس حضرت سيِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ څه موده پورې په مدينهٔ مُنَوَّره کښې اوسيدلو، بيا د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په دَورِ خِلافت کښې ئې په "عِراق" کښې اوسيدل اختيار کړل. څه موده پس حضرتِ عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هغوئي د "مَدائِن" ګورنر مُقرر کړلو. د ګورنر په اَهَمه او غټه عُهده باندې د فائز کيدو باوجود ئې ډير ساده ژوند تيرولو، يوه ورځ هغوئي د "مَدائن" په بازار کښې روان وو چې يو ناواقفه کس هغوئي مزدور اوګڼلو او د خپل سامان اوچتولو د پاره ئې ورته اُووئيل، هغوئي خاموشئ سره د هغوئي سامان اوچت کړلو او په هغه پسې شاته شاته روان شولو. چې خلقو اوليدلو نو اُو ئې وئيل چې: اے صحابي رسول! تاسو دا پيټے ولې راخستے دے؟ راوړئ چې مونږه ئې يُوسو. د سامان مالِك چې دا اوليدل نو حيران پاتې شو، بيا ځان سره ډير زيات شرمِنده شو او د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه ئې مُعافي اوغوښتله او سامان ئې ترينه کوزول غوښتل خو هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اُوفرمائيل چې: ما ستا د سامان ورلو نِيَّت کړے وو، اوس به دا ضرور ستا کور ته رسووم. (طبقاتِ اِبنِ سعد ج ٤ ص ٦٦)

## تړوله تنخواه به ئې په مِسکینانو تقسیموله

حضرت سیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به د **الله** په لار کښې مال خرچ کول ډیر زیات خوښول، چنانچه د تنخواه په طور به ئې څلور پینځه زره دِرهمه اخستل خو پوره تنخوا به ئې په مِسکینانو تقسیموله او پخپله به ئې د کجورو د پاڼو نه ټوکرئ جوړولي او یو څو دِرهمه به ئې ګټل او په هغې به ئې خپله ګُزاره کوله. (طبقاتِ ابنِ سعد ج ٤ ص ٦٥) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

ہمیں عزت عنایت ہو کبھی بھی خوار مت کرنا
خدا! سلمان کا صدقہ، ہماری مغفرت کرنا

مونږه کله هُم خوار نه کړې را ته ډیر راکړې عِزَّت
یا ربّه په خاطر د سَلمان زمونږه اوکړې مغفرت

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د 200 کالو د عبادت ثواب

په خپل اُمَّت باندې مهربانه خوږ خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څوك چې د جُمُعے په ورځ اولامبي د هغه ګناهونه او خطاګانې وراني [یعني معاف] کړے شي او چې کله [د جُمُعے لمانځه له] روان شو نو په هر قدم ورله شل نیکئ لیکلے کیږي. (مُعْجَم کبِیر ج ١٨ ص ١٣٩ حدیث ٢٩٢) او بل روایت کښې دي چې: په هر قدم باندې ورله د شلو کالو عمل لیکلے کیږي او چې کله د لمانځه نه فارِغه شي نو هغه ته د دوو سوو کالو د عمل اجر ورکولے کیږي. (مُعْجَم اَوْسَط ج ٢ ص ٣١٤ حدیث ٣٣٩٧)

## مرحوم مور و پلار ته هره جُمُعَه اعمال پیش کیږي

د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د کُل او زیارت په ورځ د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې اعمال پیش کیږي او د انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام او د مور و پلار په وړاندې په هره **جُمُعَه**. هغوئي

په نيکو خوشحاليږي او د هغوئي د مخونو صفائي او ځليدل زيات شي، نو د **اللّٰه** تعالٰی نه اويَريږئ او خپلو وفات شوو [کسانو] ته په **خپلو ګناهونو** غم مه رَسوئ. (نَوَادِرُالْاُصُول ج۲ص۲۶۰)

## د جُمُعے پينځه خُصوصي اَعمال

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو سعِيد رضی اللّٰہ عنہ نه رِوايت دے چې د سردارِ دوعالَم صلّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمان مُباك دے: پينځه څيزونه چې څوك په يوه ورځ اوکړي **اللّٰه** تعالٰی به هغه جنَّتي اوليکي ﴿۱﴾ څوك چې د مريض تپوس له لاړ شي ﴿۲﴾ چې د جنازے په لمونځ کښې حاضر شي ﴿۳﴾ چې روژه اونيسي ﴿٤﴾ چې **جُمُعے** [يعني د جُمُعے لمانځه] له لاړ شي او ﴿۵﴾ غُلام آزاد کړي.

(الاحسان بترتيب صحيح اِبنِ حبّان ج٤ ص۱۹۱ حديث۲۷۶۰)

## جَنَّت واجِب شو

د **حضرتِ** سيِّدُنا اَبُو اُمامه رضی اللّٰہ عنہ نه رِوايت دے چې د حُضُورِ اکرم صلّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمانِ عالِيشان دے: چا چې د **جُمُعے** لمونځ اوکړو، د هغه ورځې روژه ئې اونيوله، د يو مريض تپوس ئې اوکړو، په يوه جنازه کښې حاضِر شو او په يو نِکاح کښې شريك شو نو جنَّت د هغه د پاره واجِب شو. (مُعْجَمُ کبِير ج۸ ص۹۷ حديث۷٤۸٤)

## صِرف د جُمُعے روژه مه نيسئ

په خُصُوصِيَّت سره صرف د **جُمُعے** يا صرف د خيالي روژه نيول مَکرُوہِ تَنزِيهی دي. خو که په کوم مخصوص تاريخ **جُمُعَه** راغله يا خيالي راغے نو بيا کراهَت نشته مَثَلًا پينځلَّسم **شَعْبانُ الْمُعَظَّم** يا ووه وِيشتم **رَجَبُ الْمُرَجَّب** وغيره. **فرمانِ مُصطَفیٰ** صلّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلّم دے: د **جُمُعے** ورځ ستاسو د پاره اختر دے په دې ورځ روژه مه نِيسئ خو دا چې د دې نه مخکښې يا وروسته هُم روژه اونيسئ.

(اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج۲ ص۸۱ حديث۱۱)

## د لسو زرو کالو د روژو ثواب

اَعلٰی حضرت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د **جُمُعے** د ورځې روژه يعني چې د دې سره د پنجشنبے (يعني د زيارت) يا د شَنبے (يعني د خيالي روژه) هُم شامِله وي نو رِوايت دے چې **د لسو زرو کالو د روژو هُمره ده.** (فَتَاوٰى رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج۱۰ ص۶۵۳)

## د جُمُعے روژه کله مکرُوه ده؟

د **جُمُعے** روژه په هر صورت کښې مکروه نه ده، خو هغه صرف په دې صُورت کښې [مکرُوه] ده چې کله څوك په خُصوصِيَّت سره د **جُمُعے** روژه اونيسي. چنانچه په دې باره کښې چې د **جُمُعے** روژه کله مکرُوه ده. د **فَتَاوٰى رَضَوِيّه مُخَرَّجه** جِلد۱۰ صفحه ۵۵۹ نه **سوال و جواب** اوګورئ،

**سوال:** څه فرمائي عُلَمائے دِين په دې مسئَله کښې چې د **جُمُعے** نفلي روژه نيول څنګه دي؟ يو کس د **جُمُعے** روژه اونيوله بل هغه ته اووئيل: **جُمُعه عِيدُ الْمُؤمِنِين** [يعني د مُؤمِنانو اختر] دے، روژه نيول په دې ورځ مَکرُوه دي او په اِصرار [يعني په کوشش] ئې پرې د غرمے نه پس روژه ماته کړه.

**جواب:** د **جُمُعے** روژه خاص په دې نِيَّت چې نن **جُمُعَه** ده، د دې روژه په **تخصِيص** [يعني خُصُوصِيَّت] سره نيول غوارِي مَکرُوه ده خو هٰغه کراهَت نه دے چې ماتول ئې لازم شو، او که د خاص **تخصِيص** نِيَّت ئې نه وو نو اَصلًا [يعني د سره پکښې] کراهَت هُم نشته، هغه بل کس ته که د نِيَّتِ مَکرُوهه خبر نه وو نو بيا خو اِعتِراض کول د سره حَماقت [يعني بے وقوفي] ده، او روژه ماتول په شَرعِ باندې سخت جُرأت دے، او که [د **تخصِيص** د نِيّت] خبر ورته شوے وو نو بيا هم صرف مسئَله ښودل کافي وو دا نه چې روژه ماتول، او هغه هُم د غرمے نه پس، چې د هغې اختيار په نفلي روژو کښې د مور و پلار نه سِوا هيڅ چا ته نشته، ماتولو والا او په هغه باندې ماتوونکے دواړه ګنهګار شو، په ماتولو والا باندې قضا لازِم ده او کفَّاره پرې اَصلًا نشته. وَاللهُ تَعَالٰى اَعْلَم.

# مَدَني انداز ليدلو نه مُتأَثِّر شو

د جُمُعے په ورځ د مختلفو نيکو د ثواب ګټلو حِرص زياتولو د پاره او دُرُود و سلام د کثرت جذبه حاصلولو د پاره د ''دعوتِ اسلامي'' دِيني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. ستاسو د ترغِيب د پاره يو ''مَدَنـي سپرلے'' وړاندې کيږي. چنانچه د ډهرکي (ضلع ګهوټکي، سندھ) يو اِسلامي ورور دِيني ماحول ته د راتلو نه مخکښې د لوفرئ او جينکو سره د دوستئ په چکر کښې اخته وو. شپه او ورځ به ئې په ساؤنډ سسټم په اوچت آواز سندرې اوريدلې. د کور کسانو به پوهه کولو خو ده به په يو غوږ واوريدله او په بل غوږ به ئې اُووِيستله. يوه ورځ يو ځائے کښې چا سره ناست وو چې د نعت شريف آواز ئې واوريدلو او ډير زيات ئې خوښ شو، دے په آواز پسې روان شو او تلو تلو محفِلِ نعت ته اورسيدلو، څه ګوري چې هلته سپين لباس اغوستے، په سر عمامه شريفه او سپين څادر په سر کړے يو د ذُلفو او کِيرې والا نعت خوان نعت وائي. د ده په زړه ئې ډير اثر اوکړو [او سوچ ئې اوکړو] چې زما لا څه ژوند دے! د ژوند خوند خو دوئي واخستو چې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په عشق کښې د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو عمل کوي. په هغه محفلِ نعت کښې په ناسته ناسته ئې د لـمونځ کولو پوخ نِيَّت اوکړو او لـمونځ کول ئې هُم شروع کړو، بيا ورته يو اشنا کس د دعوتِ اسلامي زير اِنتِظام کيدونکـي د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په اِعتِکاف کښې د شامليدو ترغيب ورکړو، هغه خو د مخکښې نه د دعوتِ اسلامي والؤ شيدائي جوړ شوے وو ځکه فوراً راضي شو. په اِعتِکاف کښې يو کلام اووئيلے شو ''کاش کہ نہ دُنیا میں، پیدا میں ہوا ہوتا'' [يعني کاش چې زه هډو په دُنيا کښې پيدا شوے نه وے] دا ئې چې واوريدلو نو په ژړا شو، بيا د مازديګر د لـمانځه نه پس د فِکرِ آخرت مُتَعَلِّق بيان اوشو نو د هغه زړه بے قراره شو او د تيرو ګناهونو نه ئې پخه توبه اوکړه. د هغې نه پس ئې کِيره او [د سُنَّتو مطابق] زُلفي پريښودې او د عمامے شريفې تاج ئې هُم په سر کړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د اِعتِکاف نه پس ئې په خپله علاقه کښې د ''صدائے مدينه'' لګولو په ذريعه مسلمانان د سحر لـمانځه ته راويښول شروع کړل. د دعوتِ اسلامي په کار کولو کولو کښې د يوې حلقے ذِمَّه دارئ ته هُم اورسيدلو.

گیت گانے کی عادت نکل جائے گی　　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

بے جا بک بک کی خصلت بھی ٹل جائے گی　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٢)

ختم به مو شي د سندرو وئيلو عادت　　دِيني ماحول كښې اوكړئ اِعتِكاف

ختم به مو شي د بے ځايه وَينا عادت　　دِيني ماحول كښې اوكړئ اِعتِكاف

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جُمُعے په ورځ د مور و پلار قبر ته د حاضريدو ثواب

د رَسُولِ آكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوك چې د خپل مور او پلار دواړو يا د يو قَبْر ته د **جُمُعے** په ورځ د زيارت [يعني ليدلو] د پاره حاضِر شي، **اللّٰه** تَعَالٰى به د هغه ګناهونه اوبخښي او د مور و پلار سره به ښه سُلوك كولو والا اوليكلے شي. (مُعْجَم اَوْسَط ج٤ ص٣٢١ حديث٦١١٤)

## د مُور و پلار قبر ته د "سُورةيٰسٓ" لوستلو فضيلت

حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوك چې د **جُمُعے** په ورځ د خپل مور و پلار يا د يو د قَبْر زيارت اوكړي او د هغې خوا ته يٰسٓ اولولي نو هغه [يعني لوستونكے] به اُوبخښلے شي.

(اَلْكامِل فِي ضُعَفَاءِ الرِّجال ج٦ ص٢٦٠)

## درې زره مغفرتونه

د دواړو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوك چې هره **جُمُعَه** د مور و پلار يا د يو د قَبْر زيارت اوكړي، هلته يٰسٓ اولولي، په يٰسٓ (شريف) كښې چې څومره حُرُوف دي د هغه ټولو د

شمير هُمره به **الله** تعالیٰ د هغه د پاره مغفِرت [يعني بخښنې] اوکړي. (اتحاف السادة ج١٤ص٢٧٢) **خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** هره **جُمُعَه** مُبارکه د وفات شوو مور و پلار يا په هغوئي کښې د يو **قَبَر** ته د حاضريدلو او د يٰسٓ شريف لوستلو والا خو بيړئ پورېوتله. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ په يٰسٓ شريف کښې پينځه رکوع 83 آيتونه ٢٩ 729 کلِمات او 3000 حُروف دي اِنْ شَآءَ اللّٰه **د دري زره بخښنو ثواب به ورته حاصليږي.**

## د جُمُعــے په شپه د يٰسٓ لوستونکي به بخښنه کيږي

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: څوک چې د **جُمُعــے** په شپه يٰسٓ اولولي د هغه بخښنه به اوشي.

(اَلتَّرغِيب وَالتَّر هِيب ج١ ص٢٩٨ حديث٤)

## رُوحونه جمع کيږي

د **جُمُعــے** په ورځ رُوحونه جمع کيږي لِهٰذا په دې کښې د قبرونو زيارت کول پکار دي او په دې ورځ باندې [د] جهنّم [اور] نه تيزولے کيږي. (دُرِّمُختار ج٣ ص٤٩) اَعلٰی حضرت اِمام اَحمد **رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (د قبرونو) د زيارت افضل [يعني غوره] وخت د **جُمُعــے** په ورځ د سحر د لـمانځه نه پس دے.

(فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج٩ ص٥٢٣)

## د "سُورةُ الْكَهْف" فضيلت

**د صَحابي** اِبنِ صَحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے: د نبيءِ رَحمت، تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظيم فرمان دے: څوک چې د **جُمُعــے** په ورځ **سُورةُ الْكَهْف** اولولي د هغه د ښپو نه د آسمانه پورې به نُور اوچتيږي او هغه به د قيامت په ورځ د هغه د پاره روښانه کيږي او **د دواړو جُمُعو په مينځ کښې چې څه گناهونه شوي دي هغه به اوبخښلے شي.**"

(اَلتَّرغِيب وَالتَّر هِيب ج١ ص٢٩٨ حديث٢)

## د دواړو جُمعو تر مينځه نُور

د **حضرتِ** سَیِّدُنا اَبُو سعِيد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې، د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ نُورٌ عَلٰی نُور دے: ''څوك چې د **جُمُعے** په ورځ سُورةُ الْكَهْف اولولي د هغه د پاره به د دواړو **جُمُعو** تر مينځه نُور روښانه کيږي.'' (السُّنَنُ الكُبرٰى لِلبَيهَقِى ج٣ ص٣٥٣ حديث٥٩٩٦)

## د کعبے پورې نُور

په **يو** رِوايت کښې دي څوك چې سُورةُ الْكَهْف د **جُمُعے** په شپه اولولي د هغه د پاره به د هغه ځائے نه د **کعبے پورې نُور** روښانه شي.'' (سُنَنِ دارِمى ج٢ ص٥٤٦ حديث٣٤٠٧)

## د ''سُوْرَةُ حٰمٓ اَلدُّخَان'' فضِيلت

د **حضرتِ** سیِّدُنا اَبُو اُمامه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے: د مدينے د تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوك چې د **جُمُعے** په ورځ يا د **جُمُعے** په شپه سُوْرَةُ الدُّخَان اولولي د هغه د پاره به **الله** تعالىٰ په جنَّت کښې يو کور جوړ کړي. (مُعْجَمُ کبِير ج٨ ص٢٦٤ حديث٨٠٢٦) په **يو** رِوايت کښې دي چې د هغه بخښنه به اوشي. (تِرمِذى ج٤ ص٤٠٧ حديث٢٨٩٨)

## د اويا زره فرښتو اِستِغفار

د سَيِّدُ الْمُرسَلِين، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: ''څوك چې د شپې سُوْرَةُ الدُّخَان اولولي نو سحر کيدو پورې د هغه د پاره اويا زره (70000) فرښتے اِستِغفار کوي.'' (اَيضاً ج٤ ص٤٠٦ حديث٢٨٩٧)

## د جُمُعے په ورځ د سحر د لـمانځه نه مخکښې د اِستِغفار فضيلت

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چې د **جُمُعے** په ورځ د سحر د لـمانځه نه مخکښې درې ځله اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِىْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ اولولي د هغه ګناهونه به اوبخښلے شي اګر که د سمندر د ځګ

نه زيات وي. (مُعْجَمُ اَوْسَط ج٥ص٣٩٢ حديث٧٧١٧)

## د جُمُعے د لـمانځه نه پس

اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په سيپاره ٢٨ سُوْرَةُ الْجُمُعَه آيت ١٠ کښې ارشاد فرمائي:

فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ وَ ابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَ اذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بيا چې کله (د جُمُعے) لـمونځ اوشي نو په زمکه کښې خواره شئ او د **اللّٰه** فضل اولټوئ او **اللّٰه** ډير ياد کړئ په دې اُمّيد چې کاميابي اوموموئ.

صَدْرُالْاَفَاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيّد محمّد نعيمُ الدّين مُراد آبادي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه د دې آيت نه لاندې په تفسِير خَزَائِنُ الْعِرفَان صفحه 1025 کښې فرمائي: بيا (يعني د جُمُعے د لـمانځه نه پس) ستاسو د پاره جائِز دي چې د مَعاش په کارونو کښې مشغُول شئ يا د عِلم په حاصلولو يا د مريض په تپوس يا جنازه کښې د شِرکت يا د عُلَماؤ په زيارت کولو يا د دې په شان [نورو] کارونو کښې مشغُول شئ او نيکئ حاصلې کړئ.

## د جُمُعے د لـمانځه سُنَّتونه [او مستحبّات]

د **جُمُعے** د لـمانځه د پاره په اوّل وخت کښې تلل، **مِسواك** كول، ښے او **سپينې** جامے اغوستل، **تيل** او **خوشبُو** لګول او په **وړومبي** صف کښې کښيناستل مُستَحب دي او **غُسل** کول سُنَّت دي.

(عالمگیری ج١ ص١٤٩، غُنيه ص٥٥٩)

## د جُمعے د غُسل وخت

**مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الأُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: بعضې عُلَمائے کرام رَحِمَهُمُ الله فرمائي چې د **جُمعے** د ورځې غُسل د [جُمعے د] لـمانځه د پاره مسنُون [يعني سُنَّت] دے، د **جُمعے** د ورځې د پاره نه. لِهٰذا په چا چې د **جُمعے** لـمونځ نشته د هغوئي د پاره دا غُسل سُنَّت نه دے، بعضې عُلَمائے کرام رَحِمَهُمُ الله فرمائي چې د **جُمعے** غُسل د **جُمعے** لـمانځه ته نزدې کوئ تر دې چې د هغې په اوداسه د **جُمعے** لـمونځ اوکړئ خو حق دا دے چې د **جُمعے** د غُسل وخت د سحر د راختو نه شروع کيږي. (مِراٰة ج٢ص٣٣٤) معلومه شوه چې زنانه او مسافر وغيره په چا چې د **جُمعے** لـمونځ واجِب نه دے د هغوئي د پاره د **جُمعے** غُسل هم سُنَّت نه دے.

په چا چې **لـمونځ** فرض دے خو دځه شرعی عُذر په وجه پرې جُمُعه فرض نه وي، نو هغه ته د جُمُعے په ورځ د ماسپښين **لـمونځ** معاف نه دے هغه به ضرور کوي.

## د جُمُعے غُسل سُنَّتِ غير مُؤَکَّده دے

**حضرتِ** علّامه اِبنِ عابِدِين شامي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د **جُمعے** د لـمانځه د پاره غُسل کول د سُنَّتِ زوائِدو نه دي، د دې په پرېښودلو عِتاب (يعني مَلامَتيا) نشته. (رَدُّالمُحتار ج١ص٣٣٩)

## په خُطبه کښې د نزدې کښيناستلو فضيلت

**حضرتِ** سيِّدُنا **سَمُرَه** بِن جُندَب رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چې، حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: حاضِر اوسئ د خُطبے په وخت او اِمام ته نزدې اوسئ ځکه چې سړے خومره لرې اوسي هغه هُمره به جَنَّت کښې **وروستو** اوسي اګر چې هغه (يعني مسلمان) به جَنَّت ته ضرور داخليږي. (اَبُوداؤد ج١ ص٤١٠ حديث١١٠٨) جَنَّت کښې **وروستو** پاتې کيدو نه مراد دا دے چې د جنت په داخليدو يا د جنت په درجو کښې به وروسته پاتې کيږي.

## نو د جُمُعے ثواب به نه حاصلیږي

**فرمانِ مصطفٰی** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: څوك چې د **جُمُعے** په ورځ [هغه وخت] خبرې اوكړي كله چې اِمام خطبه وركوي نو د هغه مِثال د هٰغه خر په شان دے چې په هغه كتابونه بار وي او هٰغه وخت چې څوك هغه ته دا اووائي چې ''چپ اوسه'' نو هغه ته به د **جُمُعے** ثواب نه حاصلیږي.

(مُسندِاِمام اَحمد ج١ ص٤٩٤ حديث٢٠٣٣)

## خاموشئ سره خطبه اوريدل فرض دي

كوم څيزونه چې لـمانځه كښې حرام دي مَثَلًا خوراك څښاك، سلام او د سلام جواب وغيره دا ټول د خُطبے په حالت كښې هم **حرام** دي تر دې چې **اَمرٌبِالْمعرُوف** [يعني د نيكئ دعوت هم نه شي وركولے]، خو خطِيب **اَمرٌبِالْمعرُوف** (يعني د نيكئ دعوت ور)كولے شي. چې كله خطبه لوَلي نو په ټولو حاضرو خلقو اوريدل او خاموشه اوسيدل **فرض** دي، كوم خلق چې اِمام نه لرې دي چې د خطبے آواز نه اوري په هغوئي هُم خاموشه اوسيدل **واجِب** دي كه څوك په بده خبره كولو اووينی نو د لاس يا سر په اشاره ئي منع كولے شي په ژبه **ناجائِز** دي. (بَهارِ شرِيعَت ج١ ص٧٧٤، دُرِّمُختار ج٣ ص٣٩)

## خُطبه اوريدونكے دُرود شريف نه شي لوستلے

**خطِيب** چې د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارك واخلي نو حاضر خلق دې په زړه كښې درود شريف لولي په ژبه دغه وخت كښې د وئيلو اِجازت نشته، هُم دغسې د صحابهٔ كرامو رضى الله عنهم په مبارك ذِكر [يعني نومونو اوريدلو] هٰغه وخت رضى الله عنهم په ژبه د وئيلو اِجازت نشته.

(بَهارِ شرِيعَت ج١ ص٧٧٥ دُرِّمُختار ج٣ ص٤٠)

## خطبۀ نِکاح اوريدل واجِب دي

د خطبۀ جُمُعَه نه علاوه د نورو خُطبو اوريدل هم واجِب دي مَثَلًا د اخترو او نِكاح خُطبه وغيرهُما.
(دُرِّ مُختار ج٣ص٤٠)

## وړومبي اذان كيدو سره كاروبار هم ناجائِز

**وړومبي** اذان كيدو سره (د جُمُعے لـمانځه له د تللو) كوشش (شروع) كول واجِب دي او **بَيْع** (يعني اخستل خرخول) وغيره، د هغه څيزونو كوم چې د سعي (يعني كوشش) خِلاف وي پريښودل واجِب دي. تر دې چې كه په لاره روان وو او اخستل خرخول ئې اوكړل نو دا هم ناجائِزه دي او په جُمات كښې اخستل خرخول خو **سخته گناه** ده او طعام ئې خوړلو چې د **جُمُعے** د اذان آواز راغے نو كه دا انديښنه وي چې كه خوري ئې نو د **جُمُعے** لـمونځ به ترينه لاړ شي نو خوراك دې پريږدي او د **جُمُعے** لـمانځه له دې لاړ شي. د **جُمُعے** لـمانځه له دې په اِطمينان او وقار ځي.
(بَهارِ شرِيعَت ج١ص٧٧٥، عالَمگيري ج١ ص١٤٩، دُرِّ مُختار ج٣ص٤٢)

نن صبا عِلمِ دِين نه د ناخبرئ دور دے، خلق د نورو عِباداتو په شان د خطبے اوريدلو په شان عظِيم عبادت كښې هم د غَلَطئ كولو په وجه په ډيرو گناهونو كښې اخته كيږي لِهٰذا عرض دے چې په هره جُمُعَه دې خطِيب صاحب د اذان نه مخكښې او د خُطبے مِنبر ته ختلو نه مخكښې دا اعلان كوي:

## د "بِسۡمِ الله" د ووه حروفو په نِسبت د خطبے ووه مَدَني گلونه

❖ په **حديثِ** پاك كښې دي: "خوك چې د **جُمُعے** په ورځ د خلقو په څټونو واوښتو هغه جهنّم طرف ته پُل جوړ كړو." (تِرمِذی ج٢ص٤٨حديث٥١٣) د دې يوه معنٰى دا ده چې خلق به په هغه د پاسه خيژي او جهنَّم ته به داخليږي. (حاشِيه بَهارِ شرِيعَت ج١ص٧٦١، ٧٦٢)

❖ **خطيب** طرف ته مخ کړے کښيناستل سُنَّتِ صحابه دي. لِـهذا خوك چې په صفونو کښې ښي طرف او کيڼ طرف ته ناست دي هغوئي دې د خطِيب مِنبَر طرف ته تاؤ شي.

❖ **بزرګانِ دِين** رحمهم الله فرمائي: خطبه اوريدلو ته دې په ګونټو (يعني د اَلتَّحِيَّات په شان) کښيني، په اوله خُطبه کښې دې لاسونه اوتړي او په دويمه کښې دې په ورنونو لاسونه کيږدي نو اِنْ شَآءَالله د دوه رکعاتو ثواب به ئې اوشي. (مراٰةالمناجيح ج۲ص۳۳۸)

❖ اَعلیٰ حضرت اِمام اَحمد رضا خان رحمة الله عليه فرمائي: په خُطبه کښې چې د حُضورِ اَقدس صلّى الله عليه واٰله وسلّم نوم مبارك واوري نو زړه کښې دې دُرُود اووائي ځکه چې په ژبه باندې خاموشي فرض ده. (فَتَاوىٰ رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج۸ ص۳٦٥)

❖ په "دُرِّ مُختار" کښې دي: خطبه کښې خوراك څښاك کول، خبرې کول اګر چې سُبْحٰنَ الله وئيل، د سلام جواب ورکول يا د نيکئ خبره ښودل **حرام** دي. (دُرِّمُختار ج۳ص۳۹)

❖ **اَعلیٰ حضرت** رحمة الله عليه فرمائي: د خطبے [اوريدلو] په حالت کښې ګرځيدل **حرام** دي. تر دې چې عُلَمائے کرام رحمة الله عليهم فرمائي چې که داسې وخت کښې راغے چې خطبه شروع شوې وه نو جُمات کښې چې کوم ځائے ته رسيدلے دے هُم هغلته دې اودريږي، **مخکښې** دې نه ځي ځکه چې دا به عمل [يعني يو کار] وي او د خُطبے په حالت کښې يو عمل [يعني يو کار هم] روا (يعني جائز) نه دے. (فَتَاوىٰ رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج۸ ص۳۳۳)

❖ **اَعلیٰ حضرت** رحمة الله عليه فرمائي: په خُطبه کښې يو طرف ته څټ تاوهلو سره کتل (هم) **حرام** دي. (اَيضاً ص۳۳٤)

## هغه دعوتِ اسلامي ته ځنګه راغلو

د **جُمُعے** د فضائلو نه ډيره فائده اوچتولو او د منقُول قرآني سورتونو لوستلو جذبه حاصلولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول دِيني تحريك، "دعوتِ اسلامي" دِيني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. اوس يو "مَدَني سپرلے" واورئ او خوشحاله شئ: دعوتِ اسلامي کښې شامليدو نه **مخکښې**


د ”واه کينټ“ يو اسلامي ورور د نورو ډېرو ځلمو په شان د موبائل فون ډېر زيات شوقي وو، په موبائل کښې به ئې سندرې اوريدلې، فلمونه به ئې پرې کتل، د شپې ناوخته پورې به دوستانو سره بے فائدے ګرځيدلو، ناوخته به اوده کيدلو او ناوخته به راپاځيدلو، د سحر لـمونځ او نور لـمونځونه به ئې قضا کول. والِد صاحب ئې وفات شوے وو او د مور په پوهه کولو نه سميدلو. د هغوئې په مَحَلَّه کښې يو خو دعوتِ اسلامي والا اوسيدل، هغوئې پرې اِنفرادي کوشش اوکړو چې تاسو د عاشقانِ رَسُول په صُحبت کښې په ”فيضانِ مدينه“ کښې اِعتِکاف اوکړئ، هلته ډېر څه زده کولے شئ چې په هغې کښې د لـمانځه صحيح طريقه او قرآنِ پاك صحيح لوستل هُم شامِل دي. دغسې هغه په خپل ښار کښې موجود ”**فيضانِ مدينه**“ کښې اِعتِکاف کولو کښې کامياب شو، او چې کله د اِعتِکاف نه بيرته راغلو نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه د ګناهونو نه ئې توبه کړې وه، لـمونځ کول ئې شروع کړو او د مور فرمانبرداره هُم جوړ شو او د ذيلي مُشاورت د نګران په حيثيت ورته د دعوتِ اسلامي د دِيني کارونو کولو سعادت هُم حاصل شو.

بھائی گر چاہتے ہو نمازیں پڑھوں — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
نیکیوں میں تمنا آگے بڑھوں — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٤)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د راروانې هفتې رساله





عالمي مدني مرڪز فيضان مدينه محله سوداگران پراڻي سبزي منڊي ڪراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net